مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۴/۰۲/۰۶

# د فتوی په باره کي مختصر بحث
(څلورمه برخه)

( لومړني جنګونه د مسلمانانو د اختلافاتو پیل )
سباب المسلم فسوقٌ والقِتالُهُ كفر.
مسلمان ته ښکنځل کول تېری یا فسق او له هغه سره جنګ کول کفر دی. صحیح مسلم، کتاب الایمان نهه ویشتم فصل حدیث ۱۲۲
چي مسلمان پر مخ په څپېړه ووهي او یا یې ګرېوان ورڅیري کړي زما په امت کي نه دی. هغه کتاب، پنځه څلوېښتم فصل حدیث ۱۸۴
و من يقتُل مومناً متعمداً فجزآؤُهُ جهنَّمَ خلداً فيها وغضب الله عليه و لعنهُ و أعدَّ لهُ عذاباً عظيماً . سورة نساء آية ۹۳
ترجمه: او څوک چي یو مومن په قصد سره قتل کړي د هغه جزا دایمي دوږخ دی. د خدای په غضب به ګرفتار وي، لعنت به وربانديي اوري او ستر عذاب ورته ګوري.
د دې معتبرو احادیثو او آیة مبارک حکمونه عام دي او له هغه څخه هیڅوک مستثنی کېدلای نه سي. خو موږ ګورو چي د اسلام په صدر کي، په لس هاوو زره مسلمانان، له یوه بل سره په جنګونو کي وژل سوي دي او د هغو خونړیو او تباه کوونکو جنګونو عاملین د حضرت رسول ص یاران او صحابه ول.
د حضرت رسول اکرم دریم یار او دریم خلیفه حضرت عثمان بن عفان په ۳۶ هـ ق کي شهید سو او دا د اسلام په تاریخ کي لومړنی فتنه بلله سوې او په حقیقت کي وروسته د ډېرو لویو فتنو سرچینه وه. د شام والي معاویه بن ابی صفیان، چي د عثمان بن عفان په څېر، د قریشو د بن امیه له ښاخ څخه وو، د هغه د وینو د کسات اخیستلو لپاره تیار سو او ځان یې خلیفه وباله. حضرت علی رض هم، په مدینه کي، ځان خلیفه اعلان کړ او داسي ښکارېدله چي د دواړو خواوو ترمنځ به حتماً مقابله کیږي. له بلي خوا اُمُّ المومنین عایشه هم د عثمان بن عفان د انتقام اخیستلو لپاره د طلحه بن عبیدالله او زبیر بن عوام سره، چي دواړه په هغو لسو معتبرو صحابه وو کي ول چي د جنت زېری وربانديي سوی وو او عشره مبشره بلل کېدل جنګ ته روانه سوه. د یادولو وړ ده چي طلحه او زبیر، په مدینه کي د علی رض د خلافت له اعلان سره سم له هغه سره بیعت کړی وو خو څلور میاشتي وروسته یې خپل بیعت بیرته واخیست او مکي معظمي ته روان سول او له عایشي سره په ښورش کي ملګري سول.
عایشه او طلحه او زبیر، د حضرت علي له قواوو سره د جنګ په منظور، د بصرې خواته روان سول. څرنګه چي عایشه په دغه جنګ کي د عسکر په نوم یوه اوښ باندي سپره وه نو دا جنګ د جمل یا نر اوښ په نامه یاد سو. د جمل جنګ، چي په بصره کي وسو، یوه ورځ له سهاره تر ماښامه دوام وکړ. طلحه او زبیر دواړه ووژل سول او تاریخ طبري، په یوه روایت، د دې جنګ تلفات ۱۰ زره او په بل روایت ۱۵ زره تنه ښیي. عایشه په جنګ کي ونیوله سوه خو علي هغه په احترام د مدیني خواته رخصت کړه.
علي خپلو افرادو ته هدایت وکړ چي له زخمیانو سره ښه سلوک وکړي. څوک چي اسلحه تسلیموي له هغوی سره نور غرض ونه کړي او رخصت ورکړي. له مخالفینو څخه یوازي اسلحه او آسونه واخلي او نور د هغوی له مالونو سره غرض ونه کړي او ښځي یې کنیزي او ماشومان یې غلامان نه کړي. د هغه له دې هدایت سره چا په ښکاره او چا په پټه ځکه مخالفت وکړ چي ویل یې د چا چي وینه مباح وي نو مال یې ولي حرام دی؟ د دې کسانو دغه عقیده له علي سره د راتلونکو اختلافاتو یو اساس وو.
د عبدالقیس له قبیلې څخه یوه ښځه د جنګ په پای کي په وژل سویو کسانو کي په خپلو زامنو پس ګرځېده او ویې لیدل چي دوه زامن یې وژل سوي دي. د هغي ښځي مېړه او دوه ورونه، مخکي له هغه چي علي بصرې ته ورسیږي، وژل سوي ول. هغې دا شعر ووایه:
« جنګونه مي ولیدل چي سپین سري یې کړم. مګر د جمل په څېر ورځ مي هیڅ نه وه لیدلې. دې فتنې مومنانو ته ډېر زیات تاوان ورساوه او ډېر زړه ور ځوانان یې قتل سول. کشکي هغه ښځه په کور کی پاته سوې وای او کشکي دې عسکرو سفر نه وای کړی»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

لکه څرنګه چي انتظار يې ايستل کېدی او طبيعي خبره هم وه چي دوه پاچاهان په يوه قلمرو کي نه ځايېږي نو د حضرت علي او معاويه ترمنځ هم جنګونه پيل سول او بالاخره د دواړو قواوو ترمنځ د صفين په نوم جنګونه منځته راغلل چي شاوخوا شپږ مياشتي يې دوام وکړ. په دې شپږ مياشتنيو جنګونو کي له دواړو خواوو څخه ۷۵ زره تنه ووژل سول.
داسي اټکل کيږي چي په دې جنګونو کي د علي بن ابی طالب د لښکرو شمېر ۹۰ زرو او د معاويه د لښکرو شمېر ۸۵ زرو ته رسېدی. په زړه پوري خبره دا ده چي د جنګونو په يوه مرحله کي دواړو خواوو ځکه متارکه سره وکړه چي د ذوالحجة مياشت را رسېدلې وه او په دې مياشت کي او ورپسي د محرم په مياشت کي جنګ حرام وي نو دواړو خواوو موافقه وکړه چي د صفر د مياشتي تر لومړۍ نېټي پوري به متارکه سره کوي. ميرخوند، روضة الصفا ص ۳۱۱
په زړه پوري خبره دا ده چي د لس هاوو زرو مسلمانانو وينې تويول حرام نه ګڼل کېدل او د حرام په مياشتو کي جنګونه حرام بلل کېدل. په داسي حال کي چي حق متعال د يوه مسلمان د قصدي وژلو سزا دايمي دوږخ ټاکلی او پر قاتل باندي يې لعنت ويلی دی.
دا جنګونه ټول د مسلمانانو ترمنځ وه او يوازي مسلمانان پکښي قتل او زيانمن سول. که معتبرو احاديثو ته مراجعه وکړو نو نه يوازي د دې جنګونو محرکين او مشران له مسووليته نه خلاصيږي بلکه د هغوی پيروان هم له خپلو مشرانو سر ه مساوي مسووليت لري. د احنف بن قيس له خولي يو روايت دی چي وايي ما غوښتل چي له علي بن ابي طالب سره په جنګ کي مرسته وکړم او په لاره کي مي ابوبکرة راڅخه وکړه چي چيري ځې؟ ما ورته وويل چي ځم له علي سره مرسته کوم. ابوبکرة راته وويل بيرته وګرځه. ما له پيغمبرص څخه اورېدلي دي چي که دوه مسلمانان له يوه بل سره په تورو جنګيږي نو قاتل او مقتول دواړه دوږخ ته ځي. ما سوال وکړ چي اې د الله پيغمبره! قاتل خو بايد دوږخ ته ولاړ سي؛ نو مقتول ولي دوږخ  ته ځي؟ هغه راته وويل چي مقتول هم د خپل مسلمان ورور د قتلولو نيت درلود. بخاري، کتاب الايمان حديث ۲۴
په يوه جنګ کي چي عبيدالله بن عمر بن خطاب پکښي ووژل سو، يوازي له عبيدالله سره څلور زره قاريان يا د قرآن شريف حافظان ملګري ول، چي د معاويه په لښکرو کي جنګېدل. په دې جنګونو کي د سعد بن ابی وقاص، عبدالله بن عمر او ابوموسی اشعري په څېر پرهېزګارو صحابه وو له سره برخه وانه خيستله او ابوموسی اشعري يوه صحابي ته چي ده ته يې، د علي په طرفداري، د صفين په جنګونو کي د برخي اخيستلو بلنه ورکړه وويل چي له حضرت رسول ص څخه يې اورېدلي دي چي ويل يې کله چي فتنه پيل سي نو تر ولاړ سړي ناست او تر روان سړي ولاړ سړی بهتر دی.
د حضرت علي لښکرو بالاخره د معاويه پر پوځيانو باندي فشار زيات کړ او نيژدې وو چي حتی معاويه پکښي قتل سي. د معاويه سلاکار عمروبن عاص هغه ته مشوره ورکړه چي پر نېزو باندي د قرآن پاني او نسخي پورته کړي او له مقابل لوري څخه وغواړي چي حکميت خدای تعالی او د هغه کلام ته وسپاري. علي خپلو عسکرو ته وويل چي حمله مه پرېږدی؛ دا يو جنګي چال دی او هغوی غواړي فرصت ترلاسه کړي او موږ وغولوي. عسکرو يې قبوله نه کړه او چنداني چا دې ته زړه نه ښه کاووه چي د قرآن شريف پر پاڼو او نسخو باندي هجوم وروړي. له دواړو خواو څخه يې د حکم پر ټاکلو باندي موافقه سره وکړه. د علي له خوا ابوموسی اشعري او د معاويه له خوا عمرو بن عاص وټاکل سو.
د حضرت علي له لښکرو څخه د خوارجو په نوم يوه لويه ډله، چي مخکي يې هم له هغه سره اختلاف درلود، بېله سوه او شعار يې ورکړ چي  حکم کول پرته له خدايه بل څوک نه سي کولای « لا حکم الاالله ». علي چي هر څونه کوښښ وکړ هغوی ته يې قناعت ورنه کړای سوای. خوارجو خپل مشر عبدالله بن وهب تعيين کړ او د علي او معاويه دواړو پر ضد يې جنګ پيل کړ.
خوارج، چي ځانونه يې « الشُراة » يا سوداګر بلل؛ او مطلب يې له حق متعال سره تجارت وو چي د دې دنيا له نعمتونو څخه د تېرېدلو په بدل کي يې له خدای څخه د آخرت ښې وښادۍ غوښتلې، يوه توندروه ډله وه خو د جنګ او ښورښونو طرفداران نه ول او يوازي د اسلام له دين او عقيدې څخه د دفاع لپاره يې جنګ کاوه. خوارج په دې عقيده ول چي هر مسلمان، پرته له دې چي په کوم قوم پوري اړه لري، د خلافت حق لري. دوی په دې عقيده ول چي مسلمانان د ګناه کارو خليفه ګانو پر ضد د پاڅون او د هغه د ليري کولو حق لري. د خوارجو اکثرو ډلو هغه مسلمانان کافران بلل چي کبيره ګناه به يې کړې وه او ځينو ډېرو توندرو کسانو يې د دغو کسانو قتل روا باله او يوازي د توبې ايستلو په صورت کي يې له وژلو څخه تېرېدل. د هغوی شعار تقوا او شهادت وو.( انټرنيټ)
طبري د عبدالملک بن ابی حره له قوله ليکي: « کله چي علی، ابوموسی د حکميت لپاره واستاوه نو خوارجو له يوه بل سره وليدل او د عبدالله بن وهب راسبي په کورکي يې غونډه وکړه. عبدالله د خدای حمد او ثنا وويله او وروسته يې وويل: په خدای مي دی قسم وي چي هغه کسان چي پر رحمان باندي ايمان لري او د قرآن د احکامو تابع دي بايد چي دې دنيا ته، چي په هغې باندي زړه تړل او خوشالي کول عذاب او هلاکت راولي، پر امر بالمعروف و نهی عن المنکر باندي ترجيح ورنه کړي. بايد چي حق ويلو ته ترجيح ورکړي او دا قبوله کړي چي هر څوک چي په دې دنيا کي ستونزي او تاوانونه ويني هغه به په آخرت کي د حق متعال رضا ترلاسه کړي او په جنت کي به يې دايمي ژوند


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پاړوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

په نصیب سي. راسی پر دې بدعتونو باندې چې ګمراهي راولي د اعتراض په نوم له دې کلي ځخه، چې خلک یې ظالمان دي، کوچ وکړو او یا غرنیو ولایاتو او نورو ښارونو ته ولاړ سو» طبري، ص ۲۵۹۶
طبري لیکي چې ټولو عبدالله بن وهب خپل مشر وټاکی او هغه ته یې بیعت وکړ. بن وهب په خلکو کي په ذوالثفنات مشهور وو. طبري لیکي چې ثفنة پینې ته وایی او احتمال لري دا لقب یې ځکه هغه ته ورکړی وو چې پر تندي باندي یې د ډیرو لمونځونو او سجدو له امله پینې درلودلې. هغه کتاب ۲۵۹۶ـ ۹۷
خوارج له بغداد سره نیژدې د نهروان په علاقه کي میشت سول او هلته یې د پوځي مقاومت مرکز جوړ کړ. علي له خپلو لښکرو سره نهروان ته ولاړ او له هغوی سره یې د جنګ او جهاد له اعلانولو ځخه مخکي هغوی ته، د معاویه پر ضد د همکاری لپاره، بلنه ورکړه او لیک یې ور واستاوه:
بسم الله الرحمن الرحیم
« د خدای له بنده علی، د مومنانو امیر له خوا زید بن حصین، عبدالله بن وهب او د هغه ملګرو ته.
هغه دوه تنه چې موږ د هغوی حکمیت خوښ کړ ( ابوموسی اشعري، د علی وکیل او عمرو بن عاص د معاویه وکیل، جهاني) هغوی د خدای د کتاب مخالفت وکړ او د خدای له هدایت پرته د خپلو هوسونو تابع سول او د سنت سره سم یې عمل ونه کړ او د قرآن حکم یې ونه چلاوه او خدای او پیغمبر او مومنان له هغوی ځخه بېزاره دي. کله چې دغه لیک تاسی ته ورسیږي نو راسی چې موږ خپل او ستاسي د دښمن ( معاویه، جهاني ) خواته روان یو او هغه کار کوو چې له لویه سره مو موافقه ورباندې کړې وه»
خوارجو په جواب کي ورته ولیکل:
« اما بعد، ته د خپل پروردګار په خاطر په قهر سوی نه یې بلکه د خپل ځان په خاطر په غوسه سوی یې. که ته پر خپل کفر باندي شهادت ورکړې او توبه وباسې نو موږ به ستا سره پر همکاری کولو باندي غور وکړو او کنه نو ستاسره، د انصاف له مخې، جنګ اعلانوو ځکه چې خدای خاینان نه خوښوي» هغه کتاب ص ص ۲۶۰۰ـ۲۶۰۱
په نتیجه کي د حضرت علي او خوارجو ترمنځ جنګ پیل سو چې د نهروان په جنګ مشهور دی. په هغه جنګ کي له خوارجو سره ځلور زره تنه، چې اکثریت یې پیاده وه، او له علي سره ۱۵ زره تنه سپاره او پیاده عسکر ملګري ول. په دې جنګ کي د خوارجو د مشر عبدالله بن وهب په شمول ۲۸۰۰ تنه قتل سول او ۱۲۰۰ تنه له علي سره ملګري سول او ویل کیږي چې د علي له پوځیانو ځخه تر ۷ تنه زیات ونه وژل سول.
خوارج ډېر توندرو مسلمانان ول او د نني ورځي د داعش، د سومالیي د الشباب او د نایجیریا د بوکو حرام او نورو توندرو ډلو په څېر ظالمان او بي رحمه ول مګر د شهادت کلمه یې ویله او قرآن ته یې حتی تر نورو عادي مسلمانانو ټینګه عقیده درلوده او مرګ یې چاته روا نه وو او د هغوی پر ضد د جهاد فتوا یوازې د علي خپل شخصي حکم وو.
له بلي خوا موږ ګورو چې علي همدغو خوارجو ته، د جنګ له پیل کولو ځخه لږ مخکي، د معاویه پر ضد، چې هغه هم صحابي وو او په پوځ او کابینه کي صحابه ورسره وه، د همکاری بلنه ورکوي او معاویه د خوارجو او خپل ځان مشترک دښمن بولي.
علي د نهروان له جنګ او د خوارجو له ځپلو ځخه وروسته یو ځل بیا د معاویه خواته متوجه سو او له هغه سره جګړه یې جهاد اعلان کړ او خلکو ته یې وویل:
« اې خلکو! د هغه دښمن پر لور د حرکت لپاره تیار سی چې له هغه سره جنګ خدای تعالی او د هغه لارې ته د نیژدې کېدلو سبب کیږي. د هغو کسانو پر ضد د جنګېدلو لپاره تیار سی چې د حق له لاره یې پرې ایښې او له کتاب ځخه لیري سوي او دین یې پرې ایښې دی او په پټو سترګو یې د بغات لاره نیولې ده او په ګمراهي کي ډوب دي. هر څه قوت، وسله او آسونه چې لری هغه تیار کړی آو پر خدای باندي تکیه وکړی چې خدای تعالی د باور او اعتماد وړ تکیه ګاه ده» هغه کتاب ص ص ۲۶۱۵ـ۱۶
د کوفې خلکو د علی له وینا ځخه وروسته هم چنداني حرکت ونه کړ او هغه په یوه بله وینا کي هغوی ته وویل:
« اې د خدای بنده ګانو څه پیښه ده چې هرکله د حرکت ږغ درباندي کوم تاسي له ځایه نه خوځېږی. آیا تاسي تر آخرت په دې دنیا پوري زړه تړلی دی؟ او د عزت پر ځای مو د پستی او ذلت لاره خوښه کړې ده. ولي چې زه تاسي جهاد ته رابولم تاسي رډ رډ راته ګوری ته وا ټول د مرګ پر حال یاست. ته وا زړونه مو مشوش دي او نه پوهېږی او سترګي مو تړلي دي او نه وینی! تاسي دي خدای ښه کړي. تاسي چې ښېغمه ناست یاست هر یو لکه زمری داسي غرومبېږی او کله چې جنګ ته بلل کیږی نو له ټولو ځخه ګیدړان جوړ سي او تښتی. زه پر تاسی باندي اعتماد نه لرم. تاسي د عیش او عشرت لپاره جوړ یاست. نه ښه سپاره یاست چې په حمله کي په کار سی او نه زړه وریاست چې سړی ستاسي پر قوت باندي حساب وکړي. . . . » هغه کتاب ص ۲۶۱۶
حضرت علي او د هغه مخالف معاویه بن ابوصفیان دواړو د مسلمانانو د رهبری ادعا کوله. دواړو د اسلام ټول فرایض پر ځای کول او دواړو د یوه بل پر ضد د قرآن مجید په احکامو استناد کاوه. علي د سهار د لمانځه ځخه وروسته دعا کي ویل: الهی معاویه او عمروبن عاص او ابوالعورسلمي او حبیب او عبدالرحمن بن خالد او ضحاک بن قیس او ولید لعنت کړه. کله چې دا خبر معاویه ته ورسېدی نو هغه به هم د سهار له لمانځه ځخه وروسته دعا کي پر علی او ابن عباس او اشتر او حسن او حسین باندي لعنت وایه. هغه کتاب ص ۲۵۹۲


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موږ د دې ټولو پورته ذکر سویو کسانو له نومونو سره رضی الله عنه وایو او درناوی یې کوو. آیا علي او معاویه دواړه پر حق ول؟ دا مهم سوال دی چې هیڅوک جواب نه ورته وایی؛ په داسې حال کې چې د الله متعال په نزد ټول بنده ګان د ګناه او ثواب او خطا او صواب په مسایلو کې یو ډول او مساوي مقام لري.
محمدبن ابوبکر، د ټولو مهمو تاریخي کتابونو په استناد، د عثمان بن عفان قاتل او د هغه د قتلولو له محرکینو څخه بلل سوی دی؛ مګر علي، د دې پرځای چې له هغه څخه د اسلام د دریم خلیفه د قتلولو بازخواست او تحقیقات وکړي؛ او په سزا یې ورسوی، هغه د مصر په څېر یوه مهم ولایت حاکم کړ. معاویه له محمدبن ابوبکر څخه د مصر د نیولو لپاره عمرو بن عاص واستاوه. د یادولو وړ ده چې د محمد وررور عبدالرحمن بن ابوبکر د عمرو بن عاص په لښکرو کې وو. کله چې محمدبن ابوبکر ته خبر ورسېدی نو له خلکو څخه یې وغوښتل چې د دښمن سره مقاومت وکړي او بیا یې هم د اسلام د دین په نوم ږغ پورته کړ:
« اې مسلمانانو او مومنانو! دغه قوم چې حُرمت یې ماتاوه او ګمراهي او ضلالت یې رواجاوه او د فتنې اور یې بلاوه او غوښتل یې چې په زور پر تاسې باندې حکومت وکړي دا دی ستاسې دښمنی ته یې ملا تړلې ده او له عسکرو سره درته را روان دي. اې د خدای بنده ګانو! هر څوک چې جنت او د خدای رضا غواړي نو له دې قوم سره دې د خدای په لاره کې وجنګیږي. خدای دې پر تاسي ورحمیږي له کنانة بن بشر سره حرکت وکړی» هغه کتاب ص ۲۶۳۲
دواړو خواوو د قرآن شریف په آیتونو استناد کاوه. دواړو خواوو خپلو طرفدارانو او عسکرو ته ویل چې د مقابل لوري سره جګړه د خدای د رضا لپاره ده او هر څوک چې په دې جنګ کې ووژل سي هغه به جنت ته ځي. او کله چې د عمرو بن عاص د عسکرو یوه مشر معاویه بن حدیج، محمدبن ابوبکر ژوندی ونیوی او له هغه څخه یې د عثمان بن عفان د قتلولو بازخواست وکړ او د هغه د قتلولو دلیل یې ورڅخه وغوښت نو محمدبن ابوبکر، د عثمان بن عفان په برخه کې، د قرآن شریف په دې آیة مبارک تمسک وکړ:
من لم یحکُم بما انزل الله فاولاءک هم الفاسقون.
یعني څوک چې د خدای له خوا نازل سوي کتاب سره سم حکم نه کوي هغه فاسقان دي.
« او موږ د هغه پر عمل باندې اعتراض وکړ او قتل مو کړ؛ او تا او ستا په څېر نورو کسانو د هغه لاره خوښه کړه او که خدای کول موږ د هغه د قتلولو له ګناه څخه پاک یو مګر ته د عثمان په ګناه او د هغه په خطاوو کې شریک یې او خدای به تا هم د عثمان په سرنوشت اخته کړي. »
معاویه بن حدیج په قهر سو. محمدبن ابوبکر یې وواژه او وروسته یې هغه د خره په نس ننه ایست او د خره سره یو ځای یې وسوځاوه. هغه کتاب ص ص ۲۶۳۲- ۲۶۳۵
او کله چې حضرت علي د خوارجو سره د جنګ او د هغوی د وژلو په برخه کې د حضرت رسول ص په وینا استناد کوي او وایي چې ما پخپله له آنحضرت ص څخه واورېدله چې په تاسې کې به داسې کسان پیدا سي چې ځوانان به وي او عقلونه به یې خام وي خو مګر دوی به داسې ږغیږي لکه د دنیا تر ټولو انسانانو چې بهتر وي. دوی به د قرآن تلاوت کوي مګر آیتونه به یې تر ستوني هاخواته نه تیریږي او دوی به له دین څخه داسې تیریږي لکه غشی چې له ښکار څخه وزي. نو کله چې تاسې دوی ووینی ویې وژنی او د هغوی په قتلولو سره به په آخرت کې عوض تر لاسه کړی. صحیح مسلم، کتاب الزکواة حدیث ۱۹۴
عابده وایی علي خوارجو ته اشاره وکړه او وې ویل چې په دوی کې به یو سړی وي چې یو لاس به یې معیوب وي او یا به د لاس پر ځای غوښه په ځړیږي. زه به درتهووایم حق متعال هغو کسانو ته عوض ورکوي چې دغه کسان د محمدص په حکم قتل کړی. عابده وایی ما له علي څخه سوال وکړ چې تا دا خبره پخپله له محمدص څخه اورېدلې ده؟ علي وویل چې بلې زما دې د کعبې په رب قسم وي. بلې زما دې د کعبې په رب قسم وي. بلې زما دې د کعبې په رب قسم وي. عابده وایي زه یوازې هغه څه تاسې ته نقلوم چې پخپله مې له علي څخه اورېدلي دي. هغه کتاب حدیث ۱۹۷
په دغه برخه کې، په صحیح بخاري کې یو حدیث راغلی دی. په هغه کې حضرت رسول ص دې خبرې ته اشاره کړې ده چې داسې کسان به راسي چې د قرآن شریف تلاوة به کوي مګر تلاوة به یې تر ستوني نه تیریږي او د اسلام له دین څخه به داسې وزي لکه غشی چې د ښکار پر لور حرکت کوي. مګر کله چې له حضرت محمدص څخه پوښتنه وسوه چې د دې خلکو نښانه به څه وي. حضرت رسول ص ورته وویل چې سرونه او ږیرې به یې خریلې وي. بخاري، کتاب التوحید حدیث ۱۸۷-۱۸۸
البته خوارجو هیڅ وخت ږیرې نه خریلې او لکه څرنګه چې مخکې مو وویل هغوی ځانونه تر هر چا ټینګ او معتقد مسلمانان بلل.
پر علي باندې د عابده له سوال څخه، چې پخپله یو صحابي وو، ښکاري چې دا حدیث مشکوک دی ځکه چې تر دغه وخته پورې چې د حضرت رسول ص د وفات څخه څه باندې ۲۵ کلونه تېر سوي ول خو دا حدیث چا نه وو اورېدلی.
کنه نو عابده به هیڅ وخت علي دې ته مجبور کړی نه وای چې د حق متعال په نامه درې ځله سوګند یاد کړي.
په هر صورت فتواوي د اسلام له صدر څخه داسې راغلي دي چې اکثري یې ژوري څېړني ته اړتیا لري. موږ ګورو چې علي له خوارجو سره جهاد کوي او د هغوی قتلول ثواب بولي. مګر فقط یوه ورځ مخکې چې له هغوی سره جنګ پیل کړي د معاویه پر ضد ملګرتوب ته یې رابولي او معاویه خپل او د خوارجو مشترک دښمن بولي. خوارج


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

علي او معاويه دواړه کفار بولي. علي له معاويه سره جنګ د خدای په لاره کي جنګېدل بولي او معاويه هم خپلو پيروانو ته همدغه خبره کوي. په دې ټولو جنګونو کي، تر سل زره زيات يوازي مسلمان جنګيالي قتل سوي دي چي بايد د اسلام په لاره کي جنګېدلي، غازيان سوي او يا شهيدان سوي وای؛ خو د خپلو مسلمانو ورونو په لاس قتل سول او عجيبه دا ده چي هر يوه فکر کاوه چي د خدای په لاره کي جنګيږي او جنت به يې په نصيب وي.
د عبدالله بن عمر رض څخه نقل سوی دی چي د الله پيغمبرص وويل هر څوک چي زموږ به مقابل کی وسلې ته لاس کوي هغه زموږ څخه نه دی. بخاري، کتاب الفتن، حديث ۲۱.
عثمان بن عفان په ۳۶ هجري قمري کي ووژل سو. هغه ډله چي عثمان يې وواژه قاتلان او ياغيان بللای سو او د هغوی په حق کي د قرآن شريف او احاديثو څرګند احکام موجود دي. خو له دې لومړنۍ فتنې څخه وروسته يوې خواته علي، بلي خواته عايشه او طلحه او زبير، بلي خواته معاويه، عمرو بن عاص او عبيدالله بن عمر او بلی خواته خوارج ولاړ دي. ټولو د يوه بل په مقابل کي وسلې را اخيستي وې. په دې څلورو پنځو ډلو کي يوازي يوه ډله پرحق وه. دوې يا درې ډلي پر حق کيدلای نه سي. خو زموږ مفتيانو په دې تقريباً ۱۴۰۰ کاله کي د فتوا صادرولو جرأت نه دی کړی؛ په داسي حال کي چي د حق متعال د اوامرو او پيغمبرص د هدايتونو په مقابل کي استثنی وجود نه لري او هر حکم يې عام دی.

پاته لري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ